# ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ګڼه: ۰۱ | مسلسل نمبر: ۱۳۹

پنجشنبه، شوال المکرم ۱۵مه، ۱۴۴۷هـ. ق کال

# اباډي اوونيزه

هفته نامه آبادی


## ملي تدارکاتو کمېسيون د څه باندې يو ميليارد افغانيو په لګښت ۱۷ پروژې منظورې کړې



۲ صفحه

## اسلام کلا بندر ته راتلوونکي ايراني باروړونکي موټر چلوونکي نور د افغانستان ويزې ته اړتيا نه لري



۲مه صفحه

## ارزش احيـای دوباره شـرکت امارتـی ملـی بـس



۳مه صفحه

## سرليکنه



په داسې حساسو جيوپوليټيکي شرايطو کې، چې منځنی ختيځ د دوامدارو شخړو، ستراتيژيکو ټکرونو او اقتصادي بې ثباتۍ له څپو سره مخ دی، د افغانستان نسبي اقتصادي توازن تر ډېره بريده لا هم نه دی متزلزل شوی. منځنی ختيځ د نړيوال اقتصاد د انرژۍ د شريان حيثيت لري، هلته هر ډول بې ثباتي د اسعارو پر بازارونو، سوداګريزو مسيرونو او مالي نظامونو ژور اغېز پرېباسي، چې د نړۍ ډېرې اقتصادونه تر فشار لاندې راولي. سره له دې، چې افغانستان يو وارداتي او د محدودو منابعو اقتصاد لري، خو په وروستيو تحولاتو کې چې په اقتصادي برخه کې يې کوم توازن ساتلی دی، دا د اسلامي امارت د کره او دقيق مديريت ښکارندويي کوي. يوازې منځني ختيځ کې کړکيچونه نه بلکې اوسمهال خو د پاکستان له پوځي رژيم سره هم مخامخ په جګړه کې ښکيل دی. خو له دې ټولو او هغو وړاندوينو سره سره چې ګڼې په داسې شرايطو کې به د افغانستان نوی د پرمختګ په حال کې اقتصاد په تيره بيا سوداګري ټکنی شي، نه خو د افغانستان پر اقتصادي وضعيت او نه هم بهرنۍ سوداګرۍ کې کوم ژور بدلون رامنځته شو. په دې وروستيو کې د سوداګرۍ د پراختيا او هېواد ته د صادراتو او وارداتو د بهير د دوام په موخه يو بل ګام پورته شو او هغه دا چې د هرات سيمه‌ييز مسوولينو خبر ورکړی، چې له دې وروسته ايراني موټرچلوونکي د اسلام کلا بندر ته د مالونو د تخليې لپاره ويزې ته اړتيا نه لري. دا ګام وروسته له هغه پورته شو چې د افغانستان اسلامي امارت د کابينې هغه فرمان عملي شو، چې له مخې يې د ايراني ترانزيټي وسايطو لپاره بې‌ويزې تګ راتګ او د روډپاس معافيت منظور شوی او دا بهير په رسمي ډول پيل شو. دا د سوداګرۍ په پراختيا او په داسې حساسو شرايطو کې په داخلي بازارونو کې د لومړنيو توکو ترځنګ نورو د اړتيا وړ توکو د کمښت يا هم د بيو د لوړېدو په مخنيوي کې مهم رول درلودلی شي. په دې سره به له يوې خوا ترانسپورټي لګښتونه راکم شي او له بل لوري به د سوداګرۍ په برخه کې لا نورې اسانتياوې رامنځته شي. دغه راز به د لګښتونو په کمېدو سره په بازارونو کې د توکو بيې هم راټيټې شي. د افغانستان اسلامي امارت د دې اقدام ترڅنګ په دې لنډ وخت کې د سوداګرۍ د پراختيا او اقتصادي فعاليتونو د پرمختګ په برخه کې ځينې نور ګامونه هم اوچت کړي دي. د افغانستان او ازبيکستان د خصوصي سکټور ترمنځ د ۵۱۴ اعشاريه ۸۰ ميليونه ډالرو په ارزښت د هوکړه‌ليکونو لاسليک او د افغانستان او ازبيکستان ترمنځ د سوداګرۍ شورا جوړېدل هغه څه دي چې کولای شي د افغانستان اقتصادي فعاليتونو ته لا نوره لار هواره کړي. دغه ډول اقتصادي فعاليتونه يوازې يو مالي حالت نه، بلکې يو ستراتيژيکه لاسته راوړنه ده، چې د افغانستان د سياسي استقلال، ملي حاکميت او د نظام د ثبات بنسټونه پياوړي کوي. له دې څخه دا جوتيږي چې اسلامي امارت توانېدلی د اقتصادي تدبير، مالي انضباط او داخلي تمرکز له لارې د افغانستان اقتصاد په نسبي تعادل کې وساتي چې دا د مديريت د پوخوالي او د راتلونکي ثبات لپاره د هيله مندۍ نښې ګڼلی شو.

# ملي تدارکاتو کمېسيون د څه باندې يو ميليارد افغانيو په لګښت ۱۷ پروژې منظورې کړې

د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېســـيون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمريز کال د حمل مياشـــتې په ۱۲مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شـــوه. دې غونډې ته له اجنډا سره سم ۴۲ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې.له بحث وروسته د څه باندې يو ميليارد افغانيو په ارزښت ۱۷ پروژې منظورې شوې او په ۱۴ پروژو کې بيا يولړ تعديلونه راغلل. همداراز د شـــپږو پروژو په اړه ټاکل شوو کمېټو ته دندې وســـپارل شـــوې، څو د پروژو د قيمتونـــو په اړه له ګټونکو شرکتونـــو سره مذاکره تـــرسره او راپور يې د ملي تدارکاتو کمېسيون مشرتابه ته وړاندې کړي. د دوو پروژو قراردادونه بيا له دې امله لغوه شول، چې ګټونکي شرکتونه




د قرارداد مطابق په ټاکل شـــوو قيمتونو د پروژو بشپړولو ته حاضر نه وو او پرېکړه وشـــوه چې دغه پروژې دې بياځلې ازادې داوطلبۍ تـــه وړاندې او ګټونکـــي شرکتونه دې د محروميـــت کمېټې ته معرفي شي. دوې پروژې بيا له دې امله بياځلې ازادې داوطلبۍ ته وړاندې شوې، چې په ازاده داوطلبۍ کې د شرکتونو له لوري وړاندې شـــوي قيمتونه د پـــروژو له تخميني قيمتونو څخه ډېر زيات وو. همدارنګه د يوې پروژې په اړه بيا اړوندې ادارې ته هدايت وشـــو، چې پـــه شرايطو د برابرو شرکتونو ارزونـــه دې بياځلې ترسره او راپـــور دې د ملي تدارکاتو کمېســـيون مشرتابه ته وړاندې کړي. په منظور شـــوو او تعديل شوو پروژو کې د پنجشير ولايت د پوهنتون لپاره د ليليې ودانۍ جوړول، د بدخشان ولايت د پوهنتون لپاره د طب پوهنځي ودانۍ جوړول، له کونړ څخه تر نورستان پورې د غځېدلي سړک اول او دويم فازونو د چارو بشپړول، د غزني ولايت په ګيرو ولسوالۍ، د فارياب ولايـــت په بندر ولســـوالۍ او د ننګرهار ولايت په ســـپين غر ولســـوالۍ کې د عمومي روغتونونو جوړول او همدارنګه په مختلفو ولايتونو کې د برېښنا رسونې او توزيع پروژې شـــاملې دي. منظور شـــوې پروژې د افغانســـتان اسلامي امارت له لوري تمويلېږي.

# د اوونـــۍ اقتصـــادي خبـــرونه

## اســـلام کلا بندر ته راتلوونکي ايراني باروړونکي موټر چلوونکي نور د افغانستان ويزې ته اړتيا نه لري

د هرات ســـيمه ييزمســـوولين وايي، چې له دې وروســـته ايراني موټرچلوونکي د اسلام کلا بندر ته د مالونو د تخليې لپاره ويزې ته اړتيـــا نه لري. د ياد ولايت وياند محمد يوســـف ســـعيدي باختر اطلاعاتي آژانس ته ويلي، چې د هرات والي شيخ مولانا اسلام‌جار



اســـلام‌قلعه بندر ته د سفر پر مهال، د افغانستان اسلامي امارت د کابينې د هغه فرمان د پلي کېدو موضوع وڅېړله، چې له مخې يې د ايراني ترانزيتي وســـايطو لپاره بې‌ويزې تـــګ راتګ او د روډپاس معافيت منظور شـــوی او دا بهير په رســـمي ډول پيل شوی دی. نوموړي زياته کړه چې د دې ســـفر په تـــرڅ کې د هرات د والي په مشرۍ او د اړوندو ادارو د مســـوولينو، لکـــه د بهرنيو چارو وزارت د استازولۍ، د ټولګټو رياست، د اسلام‌قلعه کميسارۍ، د ګمرک او ترانسپورت ادارو په شتون کې يوه غونډه جوړه شوه، چې پکې د دې مهـــم فرمان د عملي کېدو پر څرنګوالي بحـــث او د نظرونو تبادله وشوه. د نوموړي په وينا له دې وروسته به ايراني ترانزيتي وسايط د ويزې او روډپاس له اخيستو پرته د اسلام کلا بندر ته داخلېږي او له ټاکلي ځايه به د خپلو مالونو تر تخليې وروســـته بېرته خپل اصلي مقصد ته ستنېږي. نوموړی زياتوي، چې د دې بهير عملي کېدل به له يوې خوا د ترانسپورتي لګښتونو د کمېدو او د سوداګرۍ د اسانتيا لامـــل شي او له بلې خوا به د لېږد د مصارفـــو په راکمېدو سره په بازارونو کې د مالونو د بيو پر ټيټېدو هم اغيز ولري.

## تېر کال د ۱۸ میلیونو ډالرو په ارزښت غالۍ بهر ته صادرې شوې

د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي، تېر ۲۰۲۵ کال کې يې ګاونډيو او د سيمې هېوادونو ته د څه باندې ۱۸ میلیونو ډالرو په ارزښت وطني غالۍ او ټغر صادر کړي دي. ياد وزارت زياتوي، په دې برخه کې پرتې ستونزې يې هوارې کړې دي. ورته مهال د افغانستان د غالۍ اوبدونکو ټولنې رييس عبدالله رحمان قل وايي، اوسمهال يې د غاليو د صادراتو لپاره بېلابېلې بديلې لارې موندلې، چې د تېر کال په پرتله يې کچه زياته شوې ده. نوموړی زیاتوي، په افغانستان کې د ټغر او غاليو صنعت وده کړې او دولت يې پرتې ستونزې تر ډېره حل کړې. د نوموړي په خبره څخه کوي، د غاليو ټولې چارې په هېواد کې دننه ترسره کړي، چې خلکو ته به پکې کاري زمينې برابرې شي. د افغانستان غاليو ټولنه وايي، اوسمهال د هېواد په کچه ۱,۲ میلیونه خلک د غاليو د توليد په برخه کې په کار بوخت دي او له ګاونډيو هېوادونو څخه د مسلکي کسانو په راتګ سره به دغه صنعت لا وده وکړي.

## افغانستان او ازبیکستان د ۵۱۴میلیونه ډالرو په ارزښت هوکړه‌لیکونه لاسلیک کړل

د صنعت او سوداګرۍ د وزير نورالدين عزيزي او د ازبيکستان د نمنګان ولايت والي شوکت عبدالرزاقوف په حضور کې د افغانستان او ازبيکستان د خصوصي سکتور ترمنځ ناسته شوې، چې په پایله کې يې د ۵۱۴ اعشاريه ۸۰ میلیونه ډالرو په ارزښت هوکړه‌لیکونه لاسلیک شوي. صنعت او سوداګرۍ وزارت ويلي، چې دغه هوکړې د چرګانو فارمونو جوړولو، د سمنټو او ډبرو سکرو، د وچو مېوو او سبو صادرولو، د تېلو او خوراکي توکو وارداتو، د اسفالت، مسو او نورو توکو په برخو کې شوې دي. د نمنګان والي هم دغه هوکړې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړيکو د پیاوړتیا لپاره مهم گام بللی دی.

## برگزاری نخستین نشست شورای تجارتی افغانستان و اوزبیکستان در تاشکند

نخستین نشست شورای تجارتی افغانستان و ازبیکستان با حضور رؤسای اتاق‌های تجارت و اعضای این شورا از دو کشور، روز پنج‌شنبه، ٦ حمل در مقر اتاق تجارت و صنایع اوزبیکستان در تاشکند برگزار شد. اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان در خبرنامه‌ای اعلام کرده است که در این نشست، موافقت‌نامه ساختار شورای تجارتی افغانستان و ازبیکستان میان رؤسای اتاق‌های تجارت دو کشور به امضا رسید. رییس عمومی اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان در این نشست، ایجاد این شورا را «مکانیزمی عملی» برای حل چالش‌ها، تسریع همکاری‌ها و تبدیل ظرفیت‌های موجود به فرصت‌های واقعی اقتصادی عنوان کرده است. سید کریم هاشمی در این باره گفت: «ایجاد این شورا می‌تواند به‌عنوان یک محرک در توسعه روابط اقتصادی میان دو کشور عمل کرده و زمینه را برای افزایش حجم تجارت دوجانبه، تسهیل دسترسی به بازارها، توسعه همکاری در بخش‌های کلیدی مانند ترانزیت، انرژی، زراعت و صنعت، و ایجاد زنجیره‌های ارزش مشترک فراهم سازد.» در این نشست، دوران وهابوف، رییس اتاق تجارت و صنایع ازبیکستان، با استقبال از ایجاد این شورا، آن را گامی مهم در جهت نهادینه‌سازی همکاری های اقتصادی میان دو کشور دانست. آقای وهابوف ابراز امیدواری کرد که حجم تجارت میان افغانستان و ازبیکستان در سال‌های آینده از ۱,٦۸ میلیارد دالر به ۵ میلیارد دالر افزایش یابد. او همچنین بر ایجاد تسهیلات بیشتر برای تاجران، برگزاری منظم نمایشگاه‌های تجارتی تا چهار بار در سال و ایجاد نمایندگی‌های اتاق‌های تجارت در ولایت‌های دو کشور تأکید کرد.




# ارزش احیای دوباره شرکت امارتی ملی بس

نجیب الله

### مقدمه

ترانسپورت یکی از نیازهای اساسی جوامع بشری به شمار می رود. امارت اسلامی افغانستان در سال‌های اخیر برای حل مشکلات ترانسپورتی مردم و پاسخ‌گویی به نیازهای روزافزون، تلاش‌هایی را برای ایجاد و گسترش زیربناهای ترانسپورتی در مرکز و ولایت‌ها آغاز کرده است. احیا و منظم سازی دوباره سکتور ترانسپورت در کشور از اولویت‌های مهم حکومت به شمار می‌رود. فعالیت و توسعهٔ زیربناها و خدمات ترانسپورتی نه‌تنها مشکلات رفت‌وآمد هموطنان را کاهش می دهد، بلکه در تأمین ثبات اقتصادی و اجتماعی نیز نقش اساسی دارد. اخیراً آغاز دوباره فعالیت ملی بس ها در مسیر شاهراه کابل ـ پکتیا نمونه تازه و قابل توجه از این تلاش‌ها است که با هدف ایجاد آسانی، تأمین امنیت و عرضهٔ خدمات منظم ترانسپورتی برای مردم عملی شده است.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
آبادي اوونيزه
هفته نامه آبادی

## آغاز دوباره فعالیت ملی بس

شرکت ملی بس یکی از کهن‌ترین و مهم‌ترین نهادهای ترانسپورتی افغانستان است که در سال ۱۳۳۴ خورشیدی با سرمایه ابتدایی ۳۰۰ میلیون افغانی و ۱۲۰ بس آغاز به کار کرد. این شرکت برای چندین دهه یگانه نهاد ارائه‌کننده خدمات منظم و ارزان ترانسپورت عامه در سطح کشور بود. در سال ۱۳۵۴ این نهاد به یک تصدی دولتی تبدیل و تحت چتر وزارت مالیه فعالیتش را ادامه داد. در همین دوره با وارد کردن بس‌ها و وسایط برقی ترانسپورتی از ایران، هند، بلغاریا و چکسلواکیا ظرفیت و دامنه خدمات خود را گسترش داد. دوره سال‌های ۱۳۵۷ تا ۱۳۷۱ اوج فعالیت این تصدی بود؛ چنان‌که خدمات ترانسپورتی نه تنها در شهر کابل، بلکه در ولایت‌ها و برای مدتی محدود در مسیرهای خارج از کشور نیز عرضه می‌شد. اما پس از آن، به دلیل بی‌ثباتی سیاسی، جنگ‌های و ضعف مدیریت، این شرکت با رکود شدیدی مواجه شد و فعالیت آن تا حد زیادی کاهش یافت. اکنون ریاست عمومی شرکت‌های امارتی اعلام کرده است که فعالیت بس‌های شرکت ملی بس در مسیر کابل ـ پکتیا دوباره آغاز شده است. به گفته مسؤلان شرکت امارتی ملی بس، این وسایط اکنون سفرهای منظم، امن و آرام را برای مسافران فراهم می‌کنند. آغاز دوباره این خدمات در زمانی صورت می‌گیرد که مردم سال‌ها با کمبود ترانسپورت منظم، قابل اعتماد و ارزان حکومتی مواجه بودند. فعال‌سازی دوباره نظام ترانسپورت حکومتی می‌تواند نقش مؤثری در کاهش هزینه‌های سفر، بهبود نظم ترانسپورتی و جلوگیری از حرکت‌های بی‌نظم وسایط خصوصی داشته باشد. در چند سال اخیر، تلاش‌های عملی برای احیای ملی بس انجام شده است؛ چنان‌که چندین عراده بس ترمیم و دوباره فعال شده است. هدف این است که ملی بس نه‌تنها به عنوان یک نهاد خدماتی، بلکه به‌تدریج به یک منبع پایدار عایداتی برای امارت نیز تبدیل گردد. فعالیت دوباره ملی بس علاوه بر ارائه خدمات باکیفیت و ارزان برای مردم، زمینه کار به صدها نفر از کارکنان مسلکی و تخنیکی را نیز فراهم می‌کند. همچنان گسترش ترانسپورت عمومی منظم سبب کاهش استفاده از وسایط شخصی، بهبود نظم ترافیکی و کاهش آلودگی هوا می‌شود.

## نتیجه گیری

در مجموع، احیای دوباره شرکت امارتی ملی بس و گسترش فعالیت‌های آن یک گام مهم و استراتیژیک در راستای بازسازی سکتور ترانسپورت کشور است. آغاز رفت‌وآمد بس‌ها در مسیر کابل ـ پکتیا نه‌تنها سهولت مهمی برای مردم خلق کرده، بلکه بخشی از یک برنامهٔ کلان برای ایجاد یک سیستم ترانسپورتی معیاری، منظم و پایدار به شمار می‌رود. اگر برنامه‌های بازسازی و نوسازی این شرکت به‌گونهٔ درست و مؤثر عملی شود، ملی بس دوباره جایگاه تاریخی خود را به دست خواهد آورد، اعتماد مردم را جلب خواهد کرد و نقش چشمگیری در رشد اقتصادی کشور ایفا خواهد نمود.



## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋۶۴,۸۵ | ؋۶۴,۹۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۱۷ | ؋۲۱۸ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۰,۴۱ | ؋۰,۴۲ |
| ۱ | اروپايي یورو | ؋۷۳,۴۰ | ؋۷۳,۶۰ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸۰ | ؋۰,۸۰ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۷۴۶ | ؋۷۴۴ |
| ۱ | انگلیسي پوند | ؋۸۴,۶۰ | ؋۸۴,۹۰ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۷,۳۷ | ؋۱۷,۳۹ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۷,۷۵ | ؋۱۷,۷۷ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۴۳ | ؋۹,۴۴ |

